بسم الله الرحمن الرحیم

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د هستی نظام پر عدل ولاړ دی
عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دوشنبه ۱۸ کب ۱۴۰۴ هـ ش | ۲۰ رمضان المبارک ۱۴۴۷ هـ ق | ۹ مارچ ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۲۸)

## د سترې محکمې د نوي مرستيال وياند د معرفت غونډه وشوه



د سترې محکمې نوی مرستيال وياند قاري منصور احمد (حمزه)؛ د يکشنبې په ورځ (۱۴۴۷/۹/۱۲هـ ق) نېټه د سترې محکمې د اداري معاون محترم شيخ سخاءالله (سعيد) لخوا په يوه غونډه کې معرفي او رسماً يې چارې پيل کړې.

د مرستيال وياند د معرفت غونډه کې، چې د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه، د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي رئيس محترم الحاج مولوي سيف الله (آغا)، د مالي او اداري چارو عمومي رئيس محترم الحاج مولوي کريم الله (زاهد)، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس محترم مولوي عبدالرحيم (راشد)، د اداري معاونيت د دفتر رئيس محترم مولوي عبدالمتين (صميم)، د استخدام او سوانحو رئيس محترم مفتي عبدالوارث (سعيد)، د اداري چارو رئيس محترم سيد مجيب الله (ځل)، د مرکزي تميز عالي رياست د دفتر رئيس محترم مولوي محمد سلمان (خاورين) او د پوهنې وزارت مسؤولينو او منسوبينو ګډون درلود.

د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ سخاءالله (سعيد) صاحب په دې ناسته کې د اسلامي نظام، د مسؤوليت په ښه ډول ترسره کولو او يو شمېر نورو مهمو مسايلو خبرې وکړې وويل، مسؤوليتونه امانت دي او د غنيمت په سترګه بايد ورته ونه کتل شي؛ که مو صحيح ادا کړل شي، اجر به مو حاصل کړی وي او که خدای مه کړه په دې برخه کې مو غفلت وکړ؛ نو د خدای (جل جلاله) او خپل ولس پر وړاندې به مسؤول يو.

محترم شيخ (سعيد) صاحب زياته کړه، الله تعالی پر موږ ځانګړی احسان کړی چې د شرعي احکامو د تطبيق او شرعي قانون انفاذ لپاره يې غوره کړي يو، له دې فرصت بايد اعظمي ګټه پورته کړو او شپه ورځ د الله تعالی د احکامو د تطبيق لپاره زحمت وباسو.

نوموړي له نوي مرستيال وياند څخه غوښتنه وکړه چې د خپل مسؤوليت د ښه ترسره کولو لپاره ملا وتړي، خپلې ورسپارل شوې چارې له اړوند مسؤولينو سره په پوره همغږۍ ترسره کړي.

ياده ناسته د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.

## د ننګرهار ولايت مرافعه محکمې د تحريراتو د نوي رئيس محترم مفتي عبدالواحد حقاني معرفت غونډه وشوه

د ننګرهار ولايت مرافعه محکمې د تحريراتو نوی رئيس محترم مفتي عبدالواحد (حقاني) د دوشنبې په ورځ (۱۳ /۹ /۱۴۴۷هـ ق) په يوه غونډه کې د ياد ولايت د محاکمو مسؤولينو او منسوبينو ته معرفي او رسماً يې چارې پيل کړې.

په دې غونډه کې چې د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه، د ننګرهار د مرافعه محکمې رئيس محترم مولوي محبوب الرحمن (نقشبندي)، د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس محترم مولوي عبدالرحيم (راشد)، د ننګرهار ولايت ښاري ابتدائيه محکمې رئيس مولوي سلطان محمد (رباني)، د مرافعه او ښاري ابتدائيه محاکمو ټولو قضائي او اداري غړو ګډون درلود.

غونډې ته د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس مولوي عبدالرحيم (راشد) وينا وکړه وويل، د الله تعالی امر دی چې امانتونه اهل کسانو ته وسپارئ.

دغه راز نوموړي د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث شريف بيان کړ چې هر څوک راعي دی او ټول د خپل رعيت په برخه کې مسؤوليت لري، بناءً موږ ټول بايد ځان د الله جل جلاله او ولس پر وړاندې مسؤول وګڼو؛ د راسپارل شوي مسؤوليت د ښه ترسره کولو لپاره شپه ورځ هڅې وکړو.

محترم مولوي راشد زياته کړه، د يسار له زوی معقل رضي الله عنه څخه روايت شوی دی، نوموړي وايي: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې ويل به يې:" داسې يو څوک نشته چې الله تعالی يې په ولس وګماري، په کومه ورځ چې مړ کېږي په داسې حال کې ومري چې له خپل رعيت سره يې خيانت کړې وي، مګر الله تعالی به په هغه جنت حرام کړي"

د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس د خپلې وينا په وروستيو کې حاضرينو ته د ننګرهار ولايت د مرافعه محکمې د تحريراتو د نوي رئيس د مقررۍ (فورمه پ۲) ولوست او نوموړي ته يې په ورسپارل شوې دنده کې د موفقيت دعاء وکړه.

ورپسې د مرافعه محکمې رئيس محترم مولوي محبوب الرحمن (نقشبندي) خبرې وکړې، په مرافعه محکمې يې د تحريراتو د رئيس پر مهمو مسؤوليتونو رڼا واچوله وويل، په هر ولايت کې د مرافعه محکمې د تحريراتو رئيس د مراجعينو او محاکمو ترمنځ د همغږۍ او اصولي اړيکو اساسي مرجع ده، بناء دغه مسؤوليت ډېر مهم او د ښه ترسره کولو لپاره يې ډېرو هڅو ته اړتيا ده.

نوموړي د مرافعه محکمې د مخکني رئيس د خدمت مننه وکړه او نوي رئيس ته يې په چارو کې د برياليتوب هيله وکړه.

ناسته د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.

د يادونې وړ ده چې ښاغلی مفتي عبدالواحد (حقاني) چې له دې مخکې يې د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست اړوند د بهرنيو اړيکو د آمر په حيث دنده پرمخ وړله، چې د سترې محکمې د محترم عالي مقام په وړانديز او رياست الوزراء عالي مقام د منظورۍ په اساس د ننګرهار مرافعه محکمې د تحريراتو د رئيس

## با تلاش مسؤولين محاکم ولايت پنجشير يک قضيه قتل حل و فصل شد

با تلاش رئيس عمومی محکمه مرافعه ولايت پنجشير، و با اشتراک ملا شاه ملنګ روح الله معاون ولايت، مولوی محمد ضمير (شريفی) رئيس محکمه ابتدائيه ولسوالی عنابه، مولوی فضل الرحمن ولسوال عنابه، اعضای مجلس فقهی مصلحين و محاسن سفيدان آن ولسوالی، به تاريخ ۷ /۹ /۱۴۴۷ هـ ق موضوع يک قتل حل و فصل ګرديد.

در اين نشست رئيس عمومی محکمه مرافعه، رئيس محکمه ابتدائيه ولسوالی عنابه، معاون ولايت و ولسوال عنابه هر کدام به نوبه‌شان راجع به اهميت و حکمت صلح از ديدګاه احکام شريعت اسلامی سخنان ارزشمند ارايه نمودند و طرفين مخاصمت را به همديګری پذيری توصيه نمودند.

سپس فيصله اصلاحی مصلحين که در روشنائی احکام شريعت انجام يافته بود؛ ابلاغ ګرديد و مورد قناعت طرفين قرار ګرفت.

در ادامه طرفين دعوی اظهار سپاس و قدردانی از رئيس عمومی محکمه مرافعه، رئيس و اعضای محکمه ابتدائيه ولسوالی عنابه و مصلحين خير انديش نمودند.

در اخير متخاصمين همديګر را در آغوش ګرفته و به عقده‌های انتقام جويانه خويش خاتمه بخشيدند.

### د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته

**د عمر فاروق ﷺ په دوره کې قضاء:**

**څلورمه برخه:**

**د قضائي واک او خپلواکۍ جلا کول:**

...عمر ﷺ وويل: آيا د دې دغه هدف و؟ کعب وويل: هو، نو عمر وويل: چې ماته بېرته ښځه راولئ، ښځه ورته راوستل شوه، ده ورته وويل: په حقه ويناکولو سره هېڅ باک مه کوه او دی (کعب) دا فکر کوي، چې ته د مېړه څخه په شکايت راغلې يې؟ هغې وويل: هو، څکه څوانه ښځه يم؛ نو زه هغه څه غواړم چې ښځې يې غواړي، خاوند ته يې څوک ور ولېږه او کعب ته يې وويل: د دوی دوو ترمنځ پرېکړه وکړه، هغه وويل: زه د دې لپاره په څلورو ورځو کې د يوې ورځې پرېکړه کوم، څکه کېدای شي د دې خاوند څلور ښځې ولري او که چېرې بېله دې څخه يې بل څوک نه درلودل، نو زه د ده لپاره د درېيو ورځو پرېکړه کوم چې عبادت پکښې وکړي او د دې لپاره يوه ورځ ده؛ نو عمر ﷺ وويل: په الله قسم، ستا لومړی نظر ماته د وروستي په پرتله د حيرانتيا وړ نه دی، ته د بصرې قاضي شوې، نور ولاړ شه. ( تاريخ قضاء الأندلس،ص:۴۱)

نو عمر ﷺ لومړی کس و، چې په ولاياتو کې يې خپلواک قاضيان وټاکل، د اميرانو او واليانو څخه يې خپلواکه کړل او هغوی ته يې يوازې قضائي چارې وسپارلې، همېشه يې قاضيانو ته ليکونه لېږل او د هغو پوښتنه به يې کوله او له هغوی يې غوښتنه کړې وه چې قضائي چارو کې دې ده ته مراجعه وکړي او والي به هېڅ د دوی په کارونو کې مداخله نه کوي.

اخذليک: تتمة النظام، ۶۵ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## حکم جزای تعزیری بالای سه مجرم در ولایت هرات تطبیق شد

به اساس فیصله‌های محاکم ابتدائیهٔ شهری و ولسوالی کهسان ولایت هرات، بالای سه تن به شمول یک زن به جرم داشتن روابط نامشروع، چور و چپاول، به تاریخ ۱۴/ ۹/ ۱۴۴۷هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محاکم ابتدائیهٔ مجرمین را از شش تا نه ماه حبس تنفیذی و ۳۹- ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه در حضور مسؤولین محاکم، اعضای قضائی، کارمندان اداری، مسؤولین ادارات دیگر امارتی و مردم عام بالای مجرمین تطبیق شد.

## په پکتیا ولایت کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی د ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې یو کس ته چې پر غلا متهم و؛ د پنجشنبې په ورځ (۹/ ۹/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد متهم پر شپږ میاشتې تنفیذي بند او ۲۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر متهم تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د ابتدائیه محکمې رئیس او غړو، د نورو امارتي ادارو مسؤولینو، مجاهدینو او عامو خلکو ګډون درلود.

## د لوګر ولایت مرافعه محکمې پلاوي د یاد ولایت له زندان څخه لیدنه وکړه

د لوګر ولایت مرافعه محکمې رئیس الحاج شیخ محمد ګلاب (فاروقي) په هدایت یو پلاوي د یاد ولایت مرافه محکمې جزا دېوان رئیس مولوي فضل الرحیم (عابد) په مشرۍ؛ په ۲۱/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د یاد ولایت له زندان څخه لیدنه وکړه.

په دې پلاوي کې د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دېوان رئیس مولوي حفیظ الله (ناصح)، د امنیت عامه دیوان مفتي مولوي آغا شیرین، د علماوو شورا استازي مفتي ثناء الله، د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتو اورېدو ریاست استازي مولوي سیف الله (صارم) او د فرامینو، احکامو د تعقیب او نظارت استازي عبدالاحد (زماني) ګډون درلود.

یاد پلاوي د لیدنې په پیل کې له بندیانو څخه لیدنه وکړه؛ له ټولو بندیانو سره مخامخ خبرې وشوې، د ستونزو، خوړو، اوسېدو ځای او د مسؤولینو سلوک په اړه د بندیانو څخه معلومات واخېستل شول.

د لیدنې په دوام په زندان کې کومه ستونزه ونه لیدل شوه، بندیانو هم کوم شکایت نه درلود او هېڅ بندي بې برخلیکه نه وو.

د لیدنې په پای کې یاد پلاوي د زندان مسؤولینو او مؤظفینو ته له بندیانو سره د نېک چلند توصیه وکړه او د زندان مسؤولینو لخوا پلاوي ته ډاډ ورکړل شو.

## په بامیان ولایت کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د بامیان ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دېوان د پرېکړې له مخې یو کس ته چې پر غلا متهم و؛ د سه شنبې په ورځ ۱۴/ ۹/ ۱۴۴۷هـ ق په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د جزا دېوان یاد متهم پر یو کال تنفیذي بند او ۳۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و، چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم مولوي سید میرآغا (هاشمي)، قضائي غړو، نظامي، اداري منسوبینو او عامو خلکو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته مسؤولینو د تعزیر او شرعي سزاګانو په اړه هر اړخیزې ویناوې وکړې.

## د بدخشان ولایت د نظامي محکمې د مسؤولینو په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شول

د بدخشان ولایت د نظامي ابتدائیه محکمې د رئیس محترم شیخ عبدالباري (صالحي) په ډېرو هڅو، قومي مشرانو او سپین‌ږیرو په منځګړیتوب، د ځمکې پر سر رامنځته شوې د عمدي قتل موضوع، په ۱۵/ ۹/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه حل او فصل شوه.

یاده موضوع د ځمکې پر سر رامنځته شوې وه او یو تن په کې وژل شوی و، چې نظامي محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه؛ د موضوع طرفین سولې ته وهڅول شول او دوی هم ومنله.

د قاتل لخوا د مقتول وارثینو ته په مصالحه کې همغه د دعوې ځمکه ورکړل شوه؛ قاتل ته بخښنه وشوه او موضوع یې رسماً پای ته ورسېده.

## با تلاش رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی حصه‌اول کوهستان ولایت کاپیسا قضیهٔ یک قتل حل و فصل شد

با تلاش محترم شیخ محمد شاکر (عابد) رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی حصه‌اول کوهستان ولایت کاپیسا؛ با اشتراک وکلای مدافع، اراکین آن ولسوالی و متنفذین، به تاریخ ۱۴ /۹ /۱۴۴۷هـ ق طی جلسه ای قضیه یک قتل حل و فصل گردید.

در جلسه که به همین مناسبت دائر گردیده بود، جانب مقابل در بدل یک مبلغ پول حاضر به مصالحه گردید، طرفین همدیگر را به آغوش گرفته آشتی نمودند و تعهد کردند که در خصوص همین موضوع در حال و در آینده بین یکدیگر کدام جنجال و دعوی نداشته و نخواهند داشت.

جلسه با دعاء خیر خاتمه یافت.

## دکابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۸۴۸) بېلابېلې وثیقې اجراکړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (له ۱۶/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۲۹/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۸۴۸) بېلابېلې وثیقې اجراکړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱ - د سندونو او وثیقو د ثبت لومړی حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونیو کې (۳۲) نکاح خطونه، (۳۱) قبالې، (۳) زوجیت خطونه، او (۵۴) نورې بېلابېلې وثیقې اجراکړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۲۱) نکاح خطونه، (۶) قبالې، (۵) زوجیت خطونه او (۵۱) نورې بېلابېلې وثیقې اجراکړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۳۱) نکاح خطونه، (۱۶) زوجیت خطونه، (۱۰) قطعې زوجیت خطونه او (۹۸) نورې بېلابېلې وثیقې اجراکړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۲۷) نکاح خطونه، (۱۵) قبالې او (۴۳) نورې بېلابېلې وثیقې اجراکړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۸۶) نکاح خطونه، (۱۳) قبالې، (۱۶) زوجیت خطونه او (۷۲) نورې بېلابېلې وثیقې اجراکړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۵۰) نکاح خطونه، (۱۳) قبالې، (۶) زوجیت خطونه او (۴۹) نورې بېلابېلې وثیقې اجراکړې دي.

## د لوګر ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۰۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۰۹) وثیقې هم اجراکړې دي

د لوګر ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې د ۱/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې پورې (۳۰۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۰۹) وثیقې هم اجراکړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په یوه میاشت کې (۲۱۵) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۲) دوسیې فیصله شوې، (۷۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په یوه میاشت کې (۷۷) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۴) دوسیې فیصله شوې، (۱۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د لوګر ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۰۹) بېلابېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۲۰) دوسیه، به تعداد (۱۳۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصه اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۲۶/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۹/ ۹/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳) دوسیه فیصله شده، (۳۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۳) دوسیه فیصله شده، (۲۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده ودوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۳۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت بدخشان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۲۳) دوسیه، به تعداد (۳۹۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بدخشان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۲۹/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به (۵۰۹) دوسیه حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۳۴۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۹) دوسیه فیصله شده و (۷۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به (۱۱۴) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۴۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۰) دوسیه فیصله شده و (۱۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۳۹۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده است.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۸۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۹۵) وثیقې هم اجراکړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۲۹/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۲۸۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۹۵) وثیقې هم اجراکړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۴۵) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۶) دوسیې فیصله شوې، (۷۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۵۹) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۵۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۱) دوسیې فیصله شوې، (۱۰) دوسیه مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۹۵) بېلابېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۴۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۶) وثیقې هم اجراکړې دي

د زابل ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱۶/ ۸ / ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۲۹ / ۸ / ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۱۴۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۶) وثیقې هم اجراکړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۵۵) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶) دوسیې فیصله شوې، (۶۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۴۱) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳) دوسیې فیصله شوې، (۱۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۷۶) بېلابېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

## محاکم ولایت کاپیسا طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۲۷۵) دوسیه، به تعداد (۱۴۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کاپیسا، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۲۹/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۳۰) دوسیه جزایی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۱) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۶۳۳) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۷۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۰) دوسیه فیصله شده، (۲۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کاپیسا به تعداد (۱۴۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده است.

## د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۵۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۶۱) وثیقې هم اجراکړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه، وثایقو، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱۵/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۳۵۴) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۶۱) وثیقې هم اجراکړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۴۱) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۵۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۷) دوسیې فیصله شوې، (۳۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۲۲) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۶۲) دوسیې فیصله شوې، (۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۷۰) تجارتي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱) دوسیې فیصله شوې، (۱۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۶۱) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د هلمند ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۶۶۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۱۹) وثیقې هم اجراکړې دي

د هلمند ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې د ۱/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې څخه ۲۹/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې پورې (۶۶۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۱۹) وثیقې هم اجراکړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۵۲۵) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۲۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲۲) دوسیې فیصله شوې، (۲۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۵۴۱) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۴۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳۶) دوسیې فیصله شوې، (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۱۹) بېلابېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۸۱) دوسیه، به تعداد (۱۳۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

دواوین محکمه مرافعه ولایت سمنگان، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های آن ولایت طی دو هفته (از تاریخ ۲۶/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۹/ ۹/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۸۱) دوسیه جزائی و حقوقی، به تعداد (۱۳۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۲) دوسیه فیصله شده، (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۱۳۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## دکابل ولایت د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا (۱۷) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پریکړې له مخې (۱۷) کسانو ته د نشه‌یي تابلیتو (تابلیت کا، ذیکپ)، شیشې او الکولي مشروباتو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، په ۱۲/ ۹/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له ۹ میاشتو څخه تر ۷ کالو پر تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو. یاده پریکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای سه مجرم در ولایت بلخ تطبیق شد


به اساس فیصله محکمه ابتدائیه شهری ولایت بلخ بالای سه تن به جرم فروش مواد الکولی؛ به تاریخ ۵ و ۹ ماه رمضان المبارک سال ۱۴۴۷هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمه ابتدائیه مجرمین را به ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد. حکم جزای تعزیری در حضور رؤسای دواوین محکمه شهری، اعضای قضائی، منسوبین اداری و خدماتی، محافظین قطعه امنیتی محاکم و تعداد کثیری از علماء، وکلای گذر، مردم و مراجعین تطبیق شد. در این گردهمائی محترم مفتی محمد ولی (حقانی) رئیس محکمه ابتدائیه شهری در مورد تطبیق احکام دره بالای مجرمین، تطبیق و اجرای احکام شریعت صحبت و یادآوری نمود، که تطبیق جزا های تعزیری باعث کاهش جرایم شده است.

## په خوست ولایت کې اتو مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د خوست ولایت د تنیو ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پریکړې له مخې (۸) کسانو ته د لواطت او قطاع الطریقی په تور او اخلاقي فساد په جرم، په ۱۱/ ۹/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد کسان له یو کال څخه تر پنځو کالو پر تنفیذي بند او له ۲۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پریکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای دو تن در ولایت بغلان تطبیق شد

به اساس فیصله محکمه ابتدائیه شهری ولایت بغلان بالای دو تن به جرم تجاوز به حریم و اتهام فعل زنا، به تاریخ (۱۴/ ۹/ ۱۴۴۷هـ ق) حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمه ابتدائیه مجرم و متهم را به سه ـ سه سال حبس تنفیذی و ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه در حضور الحاج مولوی عصام الحق (حقانی) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، مولوی غوث الدین (احدی) رئیس دیوان جزای محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، اعضای قضائی و مراجعین بالای مجرم و متهم تطبیق شد .



## د خېښۍ، ودونو، مصیبتونو او همداراز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د

## عَالِیقدرْ اَمِیرُالمؤمِنِین حَفِظَهُ اللهُ تَعَالیٰ فرمان

**در بیمه برخه**

۱۰ ـ اسلامي شریعت د مهر د کموالي ترغیب کړی دی،خلک دي هڅه وکړي چې د زیات مهر اخیستلو رواج ختم او په کم مهر دې اکتفاء وکړي.

۱۱ ـ له مهر څخه علاوه د ولور، خوړې، بابېړي، طویانې او خوښي په نامه د خسرګنۍ لهخوا او یا د نورو رواجونو په نوم پیسې اخیستل جائز نه دي، فقهاء کرام (رحمهم‌الله) یې رشوت ګڼي[1]

۱۲ ـ له کوزدې وروسته د ښه خلاصي یا ښه ارتي او شریني خوري (غټ دستمال) او یا په نورو نومونو سره مېلمستیاوې جوړول، بېځایه رواجونه دي، ډډه دې ورڅخه وشي، د دوه ځله دستمال وړلو (غټ دستمال) اجازه نشته او په یو ځل دستمال ( وړوکي دستمال) کې به هم د نارینه او ښځینه مېلمنو تعداد په کمه اندازه وي او په دې مراسمو کې له زوم او ناوې پرته بل چاته تحفې ورکول منع دي؛ البته زوم او ناوي ته تحایف به هم د وسعې مطابق یوازې جامې او نور د ډول او سینګار عادي شیان وي؛ موټر، موټر سایکل، کور (سرای) او داسې نور قیمتي شیان به په تحفه کې نه ورکول کېږي.

۱۳ ـ د دستمال مراسم به په هوټل کې نه وي؛ ځکه دا اسراف دی او الله تعالی فرمایلي دي:

ژباړه : اې زامنو د آدم! واخلئ تاسې زینت (ښایست) خپل په نزد (د وخت ) د هر لمانځه [په اغوستلو د پاکو کالیو (جامو) د عورت ستر] او خورئ او څښئ او اسراف (بې‌ځایه خرڅ) مه کوئ تاسې، بې‌شکه چې الله نه خوښوي مسرفان (بې‌ځایه خرڅ کوونکي) (کابلی تفسیر).
(الاعراف: آیت ۳۱)

۱۴ ـ له کوزدې او نکاح وروسته دې هڅه وشي چې د امکان په صورت کې هرڅومره چې ژر وي، واده وشي.

۱۵ ـ له کوزدې وروسته رواجي او تکراري پوښونه (جوړې) منعه دي، په کال کې یو ځل د زوم لهخوا یوازې ناوې ته له اسراف پرته د وسعې مطابق د پوښ (جوړې) وړلو اجازه شته، د ناوې لهخوا زوم ته پوښ (خوړې) وړل مطلقاً منع دي.

۱۶ ـ د ولیمې او واده مراسم به له اسراف او ریاء پرته د زوم د وسعې مطابق د هغه د خوښې په ځای او موټرو کې ترسره کېږي، خسرګنۍ یې نشي مجبور کولای چې په هوټل، یا قیمتي موټرو کې د واده مراسم ترسره کړي.

۱۷ ـ زوم به د واده مراسم په امارتي موټرونو کې نه ترسره کوي.

۱۸ ـ د واده پر وخت د زوم لهخوا دې د ناوې کورنۍ ته خوړې یا طوی (پاخه یا خام خوراک) نه وروړل کېږي، همدارنګه د بولې (شریني خورۍ) او جوړې د مصارفو اخیستل او غوښتل هم منع دي، همداراز له زوم څخه د دودي او تکرې په نوم او یا په نورو نومونو رختونه غوښتل منع دي او د شریعت له مخې د یادو شیانو اخیستل ناجائز کار دی.[2]

۱۹ ـ د ناوې وړلو پر وخت د ناوې د ماما، د ناوې د همزولو، د کلیوالو او یا بل خدمتګار لهخوا او یا د دوی لپاره د زوم له کورنۍ څخه پیسې غوښتل منع دي، البته که د کلي خدمتګار ته چې همېشه په ښادیو کې د کلیوالو خدمت کوي په خپله خوښه څوک د صدقې په نوم پیسې ورکوي، باک نه لري .[3]

۲۰ ـ په ودونو کې د لوبو داسې مسابقې جوړول چې ګټونکي ته د موټر، موټر سایکل یا بل شي انعام ورکول کیږي منع دي، تر څو د بېځایه اسراف مخه ونیول شي، البته د جائزو لوبو مسابقې چې انعام پکې نه وي، جوړېدای شي .

۲۱ ـ د کوزدې، دستمال یا واده د مراسمو پر مهال ډزې (ټکان) کول او له امارتي وسایطو څخه استفاده کول منعه دي، همدارنګه په ورته مراسمو کې د موټرو او موټر سایکلو ځغلول، لویې ورواوې تیارول او یا داسې نور کارونه چې د لارې د بندېدو یا د تلفاتو او یا د خلکو د اذیت سبب کیږي، منع دي.

۲۲ ـ په واده کې یا له هغه وروسته، ناوې ته د نورو کورونو د نارینه‌وو او ښځینه‌وو له خوا برخه (جامې/ پیسې) ورکول او بیا د ناوې لهخوا په عوض کې برخه ورکول منع دي، ځکه له دې ناوړه رواج څخه یو درونږ تکلیف رامنځته شوی او بده لا دا چې د هر څه عوض به بېرته ورکوي چې د محبت پر ځای نفرت پیدا کوي.

۲۳ ـ د دستمال په مراسمو کې به د زوم له کور پرته نور مېلمانه ناوې ته د پیسو ډالۍ نه ورکوي او نه به د ناوې کورنۍ مېلمنو ته جامې او نورې ډالۍ ورکوي، البته له اسراف او ریاء پرته مېلمنو اکرام پروا نه کوي.

۲۴ ـ بدل/ موخې ښه عواقب نه لري حتی الامکان دي ترې ډډه وشي، د بدل/ موخې په صورت کې د مهر تاکل

۱ ـ ومن السحت : ما یاخذه الصهرمن الختن بسبب بنته بطیب نفسه حتی لوکان بطلبه یرجع الختن به مجتبی » (ردالمحتار) (٤٢٤/٦)
( اخذ اهل المراة شیئا عندالتسلیم فللزوج ان یسترده ) لأنه رشوة (قوله عندالتسلیم ) أي بأن أبی أن یسلمها أخوها أونحوه حتی یأخذ شیئا وکذا لو أبی ان یزوجها فللزوج الاسترداد قائما اوهالکا لانه رشوة — الدرالمختارمع ردالمحتار(١٥٦/٣)
۲ ـ ( ووجب مهرالمثل في الشغار) هوان یزوجه بنته علی ان یروجه الاخربنته او اخته مثلا معاوضة بالعقدین وهو منهی عنه لخلوه عن المهر فاوجبنا فیه مهرالمثل فلم یبق شغارا .
قال الشامي : وحاصله انه مع ایجاب مهرالمثل لم یبق شغارا حقیقة وان سلم فالنهي علی معنی الکراهه فیکون الشرع اوجب فیه امرین الکراهه ومهرالمثل ، فالاول ماخوذ من النهي والثاني من الادلة الداله علی ان اسمي فیه ما لایصلح مهرا ینعقد موجبا لمهرالمثل وهذا الثاني دلیل علی حمل النهي علی الکراهة دون الفساد وبهذا التقریر اندفع ما اورد من ان حمله علی الکراهة یقتضي ان الشغارالان غیر منهي عنه لایجابنا فیه مهرالمثل الدرالمختارمع ردالمحتار(١٠٦/٣)

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳